د افغانستان روزنيزاوپرمختيايي مرکز
دارزګان ولايتي دفتر
د معتا د ينو د د رملنې اوبيا رغونې مرکز

# مخدره توکي

## Drugs


Ketabton.com

ليکوال : ډاکټرمحمدصادق (رښتين )
کال: ۱۳۸۹ لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | سریزه | الف |
| ۲ | مخدره توکي او دهغه تصنیف | ۱ |
| ۳ | دمخدره توکوکارونه داسلام له نظره | ۶ |
| ٤ | دمخدره توکو روغتیایی ضررونه | ۱۵ |
| ۵ | دمخدره توکو ټولنیزضررونه | ۲۸ |
| ٦ | دمخدره توکواقتصادي ضررونه | ۲۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

ځرګنده ده چې زمونږګران هیواد افغا نستان په تیرو دری لسیزو تپل شووجنګ جګړو کې نه یوازې داچې خپلې ملي شتمنۍ له لاسه ورکړې اوزیا ت شمیروګړي دمرګ کومي ته ولوېدل ددې ترځنګ زمونږ ډیر هیوادوال دخپل ټا ټوبي پرېښودو ته اړشول او زمونږ دهیواد بچي د زده کړې له نعمت څخه بې برخې شول ورسره زمونږ ګران هیوادوال پدې لړ کې داقتصادي ، ښوونیزو ، فرهنګي ،اوټولنیزو ستونزو ترځنګ دیوې بلې لویې ستونزې او ننګونې سره مخ شول چې هغه دمخدره توکو دکرکیلې ،قاچاق او دهغه دناوړه کا روني ستونزه وه. په هیواد کې دقانون او نظام نشتوالی ، خپل سرې وسله والې ډلې ټپلې ، کډوالۍ ، بې وزلي ، بې سوادي او دمخدره توکو په پراخه پیمانه کرکیله او هغه ته آسانه لاس رسی ددې لامل شول چې زمونږ دهیواد ډیر وګړي په ځانګړي ډول دهیواد ځوان قشر پدې ناوړه عمل اخته شي چې دورځې په تیرېدو دا ستونزه لا پراخیږي او ورځ په ورځ زمونږ ځوانان داعتیاد په کرغیړنه لومه کې بندیږي او تر لاسه شوې شمیرنې ښیي چې په افغانستان کې په مخدره توکو دروږدو کسانو شمیریو نیم میلیون کسانو ته رسیږي.
نو ددې ستونزې او کړکیچ دهواري او حل لپاره دادهر هیوادپال وګړي دنده ده چې په دې اړه هڅه او هاند وکړي او خپله مرسته دریغ نه کړي او په اعتیا د داخته کسانودرملنه وشي ا و هغه کسان چې لا تر اوسه دمخدره توکو په کارولو نه دي روږدي له دې تباه کوونکې بلا څخه وژغوري چې ددې موخو دلاسته راوړلو لپاره دمخدره توکو په اړه عامه پو هاوي یو اړین ګام شمیرل کیږي.

**له مخدره توکو څخه دپاک افغانستان اودټولوهیوادوالو دښې روغتیا په هیله**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی
# مخدره توکي اودهغه تصنیف
# Drugs and Drug's Classification

**مخدره توکي (Drugs):**مخدرد(د)توري په زیر سره دشل کوونکي اوسستوونکي په معنا ده اود(د)توري په زبر سره په نقا ب پوښل شوې ښځې ته ویل کیږي.
په اصطلاح کې هره کیمیاوي ماده چې وروسته له جذب څخه دیوه ژوندي جسم په وسیله دهغه دبدن یوه یا څو دندې تغیر کړي دمخدره موادو په نامه یا دیږي.
یا په بل عبارت:
هره کیمیاوي ماده چې دانسان په جسم ،روان ،ټولنیزو اړیکو ،قضاوت او فردي حفظ الصحې اغیزه وکړي دمخدره توکو په نامه یادیږي.
**اعتیاد(Addiction):**
دمخدره توکو دوامدارې اونه کنټرولیدونکې کارونې ته اعتیاد ویل کیږي.
یا په بله وینا:
دمخدره توکو اجباري اودوامداره کارونه دخوښۍ داحساس او یا دناخوښۍ دله منځه وړلو لپاره داعتیاد په نامه یادیږي.
**اعتیاد په دوه ډوله دي:**
**الف:رواني اعتیاد(Psychological Addiction):** داډول اعتیاد ډیر زر رامنځ ته کیږي کله چې په مخدره توکو روږدی کس دمخدره تو کو استعمال پریږدي دناآرامۍ او خفګان احساس کوي .
دبیلګې په ډول دچرسو اعتیاد.
**ب: فزیکي اعتیاد(Physically addiction):** داډول اعتیاد زیاتره درواني اعتیاد سره یو ځای وي کله چې معتاد مخدره توکي قطع کړي هغه ته فزیکي تشوشات لکه دبدن درد ،زړه بدوالی ،دګیډې درد ،داوښکو بهیدل ،قبضیت ،اسهال ..... پیداکیږي.
داډول اعتیاد دتریاکوپه معتادینو کې لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تحمل (Tolerance) :**

دمخدره توکو دمکرر استعمال په پایله کې دهغې داغیزې کموالی او دمطلوبې اغیزې دلاسته راوړلو لپاره دزیاتو مخدره توکو کارونه دتحمل څخه عبارت ده.

**دمخدره توکو دپرېښودلو اعراض(Withdrawal Syndrome) :**

یولړاعراض او نښې اودناخوښۍ احساس چې دمخدره توکو دپریښودلوپه پایله کې معتاد کس ته پیداکیږي د Withdrawal Syndromeپه نوم یادیږي.

مخدره توکي بیلا بیل ډولونه لري او په مختلفو کلاسونو سره ویشل شوي دي او ددې توکو اغیزې او داستعمال طریقې هم سره بیلې دي چې ډلبندي یې په لاندې ډول ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمخدره توکو تصنيف

## Drugs Classification

په ټوليز ډول مخدره توکي په څلورو کلاسونو ويشل شوي دي :

۱) ددماغ انحطاط کوونکي يا Depressants

۲) ددماغ تنبه کوونکي  يا Stimulants

۳) برسام راوړونکي يا Hallucinogens

٤) ددرد له منځه وړونکي يا Pain Killer

**۱) ددماغ انحطاط کوونکي مواد:**

هغه موااددي چې داعصابومرکزي سيستم تر فشار لاندې راولي اوله انحطاط سره يي مخ کوي ،همدارنګه دعصبي سيالو سرعت راکموي .

په دي ډله کې الکول ،با ربيتورات ،بنزوډيازپين اوځينې نورمحلولونه اوګازونه چې هغه هم داډول اغيزه لري دبيلګې په ډول   Lighter Fluid, Butane Gas ،دنوکانو رنګ پاکوونکې ماده ،اسيتون او نور شامل دي.





بنزوډيا زيپين اونورمخدره توکې                                    الکول

**۲)ددماغ تنبه کوونکي مواد يا  Stimulants:**

دا هغه موااددي چې داعصابومرکزي سيستم تنبه کوي او ددې موادو کاروونکی شخص ديوې مودې لپاره بيدار اوفعال ساتي.

په دي ډله پورې تړلي مواد په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف:کوکائین Cocaine :**

کوکائین دکوکا په نامه له یوه شین بوټي څخه لاس ته راځي ،له افغانستان څخه دباندې زیات استعمالیږي او داستعمال بیلا بیلې لارې لري لکه دژوولو طریقه ،دپزې له لارې دهغه استعمال ،دورید له لارې دهغه استعمال اودودي (Smoking)طریقه چې هرډول طریقه یي داغیزې دپیل اوداغیزې ددوام په برخه کې یو له بل سره توپیر لري .

دبیلګې په ډول دژوولوپه طریقه دنومورې مادې اغیزه له پنځه دقیقووروسته پیل او تر یوه ساعته پورې دوام کوي مګر په وریدي طریقه دهغه استعمال ډیرژراغیزه کوي (۳۰ ثانیې)وروسته له کارولواو(۱۵ دقیقې)دوام کوي.

برسامات اودروغجنه خوشحالي رامنځ ته کوي دخستګۍ احساس ځنډوي ولې له منځه یې نه وړي.

**ب:کافین Caffeine :**

دامواد چې په قهوه ،چای اودکوکا او کولا په مشروباتو کې شتون لري داعصابومرکزې سیستم تنبه کوي او کوم کسان چې په زیاته پیمانه نومورې توکي کاروي دپریشانۍ ،نا‌ارامۍ ،بې خوبۍ اودهضمي اوقلبي وعایي سیستمونو دځینو ستونزو څخه سرټکوي.



دنوموروموادو دWithdrawalاعراض په دې موادو روږدي کس ته هغه وخت پیداکیږي چې نوموړی کس تر(250mg/d)لږ کافین استعمال کړي او نوموړي اعراض په لاندې ډول دي:

سردردي ،نا ارامي ،بې علاقه ګي ، اوکله کله زړه بدوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج:تنباکو ،نیکوتین :**

دا ناوړه توکي چې له بده مرغه زمونږ په هیواد کې په پراخه پیمانه کارول کیږي دډول ډول ناروغیو لامل کیږي چې په دریم څپرکي کې یي یادونه شوې.



**د:انابولیک سټیروئیډ Anabolic Steroids :**

داموادزیاتره دلوبغاړولخوا دغړودښکلا په سیالیوکې کارول کیږي چې دعضلي کتلې دزیاتوالي لامل کیږي.

**۳)برسام راوړونکي مواد Hallucinogen :**

دامواد له کارولو وروسته دشخص مزاج بدلوي اوشخص له حقیقي عالم څخه دمجازي عالم لور ته بیایي.

پدې ډله کې کیتامین ،چرس ، LSD اونورشامل دي.چې استعمال یې لنډمهاله اواوږد مهاله ناوړه اغیزې له ځان سره لري.



**٤) ددردله منځه وړونکي موادPain killer :**

دامواد په دوه ډوله دي :

**الف:نارکوټیک انلجیزیک**

**ب: غیرنارکوټیک انلجیزیک**

مونږ غواړو دلومړي ډول انلجزیکو په اړه چې داعتیاد منځ ته راوړونکي شمیرل کیږي بحث وکړو. اودوهم ډول یي زمونږ له بحث څخه دباندې موضوع ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف: نارکوټیک انلجزیک :**

نارکوټیک یوډول ترکیبي یا طبیعي مواد دي چې دتریاکویا اوپیوم څخه لاس ته راځي او دتریاکوسره ورته جوړښت لري.

نوموړي مواد ددرد وژنې داغیزې له مخې په دوه ډوله ویشل شوي دي :

**لومړی:قوي نارکوټیک انلجزیک:**

داډول یي ډیره قوي ددرد ضد اغیزه لري چې په لاندې ډول دي:

مورفین ،میتادون ،فنټانیل ،هیروئین ،پیټیډین ......

**دوهم : متوسط نارکوټیک انلجیزیک :**

پدې ډله کې Codeine , pentazocine,propoxyphene.... شامل دي.

ددې انلجیزیکو دواړه ډوله له هضمي سیستم څخه په قسمي دول جذبیږي ولې که چیرې په زرقي ډول استعمال شي اغیزه یي ډیره ژر رامنځ ته کیږي ،او هیروئین چې یو قوي نارکوټیک دی او دمورفین له مشتقاتو څخه دی په دودي طریقه هم استعمالیږي چې دسږو له لارې دوینې دوران ته داخلیږي.


هیروئین په شحم کې ډیر منحل دي اودماغ ته ډیر ژررسیږي چې دانسان په مغز کې ددې موادو دتاثیر لپاره ځانګړې اخذې شتون لري چې دمیو ،ګاما اوکاپا په نوم یادیږي دهغې له لارې دانسان په بدن ډول ډول اغیزې کوي.

همدارنګه دامواد دانسان طبیعي انلجیزیک سیستم چې د Endorphin Enkephali,په وسیله تامینیږي له ناتوانۍ سره مخامخ کوي .

دامواد په اعصابوکې دمیو داخذو له لارې دEuphoriaیا دروغجنې خوشحالۍ لامل کیږي چې دااغیزه یي داعتیاد داسبابوڅخه شمیرل کیږي.

Opiates یا دتریاکومشتقات ډیرقوي ددرد ضد او آراموونکی تا ثیرلري اوډیرژر دروږدیتوب اودتحمل دلوړاوي سبب کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**داعتیاد لاملونه :**

۱) دمخدره توکو په اړه دعامه پوهاوي نشتوالی.

۲) دمخدره توکو پراخه کرکیله .

۳) مخدره توکوته آسانه لاس رسی.

٤) دسوادد‌کچې ټیټوالی

٥) یوډول اوخسته کن کارونه.

٦) دفیشن په موخه دمخدره توکواستعمال.

٧) دژوندانه په وضعیت کې بدلون.

٨) کډوالي.

٩) دځینې ډاکټرانوپه وسیله داعتیادمنځ ته راوړونکودرملوپراخ استعمال.

۱۰) په درملتونونو کې دغیرقانوني او روږدي کوونکو درملو پلورل.

۱۱) دانسان دهڅې اوهاند حس.

۱۲) بیکاري.

۱۳) په مخدره توکو دروږدوکسانو سره ناسته ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غواړی چې دجیل دروازې بندې شي نو دښوونځي دروازې پرانیزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## دمخدره توکو کارونه داسلام له نظره

څرنګه چې داسلام سپیڅلی دین دبشریت دژغورنې تضمین کوي او الله پاک په خپلو بندګانو ټول هغه څه ناروا ګرځولي کوم چې په هغه کې ددوی لپاره زیان نغښتي وي دبیلګې په ډول دخوګ غوښه چې دنورونارو‌غیو تر څنګ یي دادي اوس ددې حرامې غوښې څخه را پیداشوې ناروغۍ مخ په خوریدو دي اویا لکه دزنا ناوړه عمل چې دایډز دوژونکې اولا علاجه ناروغۍ دخپرېدو یوه لاره ده همدارنګه مخدره توکي چې دانسان بدن . اقتصاد ،ټولنیزحالت ته ډیر لوی زیان متوجه کوي نوځکه داسلام په دین کې ددې توکو استعمال حرام اومنعه دي.

داسلام په تاریخ کې دمعتادینو لپاره ډول ډول جزاګانې ورکول کیدې دبیلګې په ډول استادحسین مجرب مصري په خپل کتاب کې لیکې:

عثماني خلیفه سلطان مرادڅلورم ددخانیاتو استعمالوونکي تر فشار لاندې ونیول اودهغوپرضدیې په مجلسونوکې جاسوسان وګمارل اومعتادین به یې اعدامول .دایران سره دجګړې پروخت یې خپل عسکر یا هم جنګي اسیران چې معتاد به وو اعدامول .

لومړي شاه عباس (۱٦۲۹) دایران پاچا به ددې خلکوپوزې سورۍ کولې او دهغه زوې شاه صفي به سرب ویلې کول او دهغوپه خولو کې به یې اچول.

دمخدره توکو دحرمت په اړه واضح دلایل شتون لري چې په ترتیب سره یې یادونه شوې ده.




دمخدره توکو حرمت دقرآني ایتونو پربنسټ:

په قرانکریم کې دمخدره توکو دحرمت په اړه ګڼ شمیر آیتونه شته دي چې دبیلګې په ډول یي یو څو په لاندې ډول سره ذکرکوو:

څرنګه چې دپنځوځیزونو ساتنه داسلامې ضرورتونو څخه ده :

ددین ساتنه ،دعقل ساتنه ،دځان ساتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

،دمال ساتنه ،اودشرف ساتنه
يومسلمان دقرآن اوسنتو دنصوصوپه اساس دنفس له وژلو اوهلاکت ته دهغه له اچولو څخه منع کړاي شوی دي لکه چې دالبقره په (۱۹۵) آيت کې الله ج فرمايي:
[ولاتلقوبايد يکم الی التهلکة ]
ژباړه: ځان په خپلولاسونوپه هلاکت کې مه اچوی.
همدارنګه د النسا په (۲۹) آيت کې راځي :
[ولاتقتلوا انفسکم ]
ژباړه:مه وژنی ځانونه خپل.
لکه څرنګه چې دمخدره توکو استعمال هم په حقيقت کې دځان وژنه ده او په خپل لاس خپل بدن ته دزهرونويستل دي چې دانسا ن دبدن دناتوانۍ اوپه ډول ډول ناروغيو داخته کيدو لامل کيږي اودمړيږ کچه په معتاد کسانوکې نظر غيرمعتاد کسانوته زياته ده نوددې آيتونو پر بنسټ هغه ناروا اوحرام دي.
همدارنګه په مخدره توکو دپيسو ورکول اودهغه مصرفول يوبې ځايه اوبې ګټې مصرف دي چې له بيځايه مصرف څخه هم په قرآن کې منع شوې ده ،لکه چې الله ج داسراء دسورت په (۲۶) آيت کې فرمايي:
[ولاتبذرتبذيراً]
ژباړه:بې ځايه خرڅ مه کوي
همدارنګه په قرانکريم کې اسراف کوونکې اوبې ځايه مصرف کوونکوته لعنت ويل شوی اوهغوي يې دشيطان ورونه بللي دي .
اولکه څرنګه چې روغ بدن دلوي خداي ستر نعمت دي او دقيامت په ورځ به ددې نعمت پوښتنه کيږي لکه چې الله پاک د التکا ثر په (۸) آيت کې فرمايي:
[ثم لتسأُلن يومئذ عن النعيم ]
يعنې داخرت په ورځ به ددنيوي نعمتونوڅخه پوښتل کيږي .
ځينې مفسرين وايي چې له نعيم څخه پدې آيت کې مقصد روغتيا ده.
همدارنګه نشه يي توکي الله پاک دشيطان عمل بللی دي او دالما ئده په (۹۰) آيت کې فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[یاایها الذین آمنو انما الخمروالمیسروالانصاب والازلام رجس من عمل الشیطا ن فاجتنبوهُ لَعلکم تفلحون ]
ژباړه: ای هغه کسانو چه ایمان موراوړی دی بیشکه چه شراب ،او قیمار ،او نښی ، او په غیشوسره پالونه پلیت دی ، دشیطان دعمل څخه دی اوددی څخه لری والی وکړی ښایی تاسی کامیاب شی.
که چیري پورتنیوآیتونوته ځیر شو په ډاګه څرګندیږي چې الله پاک په خپل سپیڅلي کتاب کې دخپلو بندګانو روغتیا اوسلامتۍ ته څومره پاملرنه کړې او خپل بندګان یې دهغه شیانو له استعمال څخه منع کړي کوم چې دانسان دروغتیا لپاره مضر دي چې دلته مونږ یوازې دمخدره توکو په اړه دبیلګې په ډول یادونه وکړه.
نوټولومسلمانانوته پکارده چې دالله( ج ) ټول اوامر پرځان عملي اوله نواهیو څخه ډډه وکړي تر څویې په دواړو جهانونوکې بریالیتوب اوسوکالۍ په برخه شي.

**دمخدره توکوحرمت دنبوي احادیثو پربنسټ:**

دمخدره توکوپه اړه دقرآني آیتونوتر څنګ دنوموړوتوکو دحرمت ،زیانونواوبدو پا یلو په اړه زیات شمیر احادیث راغلي چې دبېلګې په ډول به ترې یادونه وکړو:
په حدیث شریف کې راغلي دي:
[ دقیامت په ورځ له بنده څخه مخکې لدې چې قدم یې لا نه وي اخستی له عمر څخه یې پوښتنه کیږي چې ښنګه یې مصرف کړئ ،له عمل څخه یې پوښتنه کیږي چې څه کارونه یې کړي ،له مال څخه یې چې له کومې لارې یې لاس ته راوړئ ،اوله بدن څخه یې چې څرنګه یې آخر ته رسولی ].(داحدیث دترمذي روایت دي )
له پورتني حدیث څخه له ورایه څرګندیږي چې په اسلام کې روغتیا ته څومره پاملرنه شوې ده اوهروګړی دهغه په ساتنه مکلف دي همدارنګه مخدره توکي چې نه یوازې روغتیا ته زیان دي بلکه مال هم بې ځایه پکې مصرفیږي اویوناوړه عمل هم شمېرل کیږي چې دپورتني حدیث مطابق ددې ټولو پوښتنه به کیږي.
همدارنګه امام احمد ابن حنبل دام السلمه له خولې داحدیث نقلوي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[ رسول الله (ص) له هرې نشه راوړونکې اومخدرې مادې څخه منع کړې اودخانیات دمخدراتواوغړوسستونکو له جملې څخه دي].
اولکه څرنګه چې مخدره توکي دخولې دبدبویي اوتعفن سبب کیږي او دهغه له بد بویي څخه غیر معتاد کسان هم آزاریږي چې دایوه ګناه ده چې معتادکس یي ترسره کوي .ځکه چې په صحیح بخاري او صحیح مسلم کې له جابر(رض) څخه حدیث روایت شوی دی چې رسول الله( ص) فرمایلي دي :
[ له هر څه څخه چې خلک اذیت کیږي ،ملایکې هم ترې اذیت کیږي ]
اوپه بل حدیث کې راغلي چې رسول الله( ص) فرمایي :
[څوک چې مسلمان آزاروي زه یي آزار یااذیت کړم اوڅوک چې ما آزاروي نو خداي( ج) یي آزار کړی دی ]
لکه څرنګه چې طبي څیړنو هم داښودلې چې ددخانیاتو ضرر نه یوازي معتاد ته دی بلکه ورسره کسان هم اغېزمن کوي چې هغوي ته Passive Smoker ویل کیږي چې دا کار هم نارواکاردي .
لکه چې ابوسعید خدري( رض) روایت کوي چې رسول الله( ص) وفرما یل :
[ لا ضَرَرولاضِرار]. یعنی مه چاته ضرر رسوی اومه ضررمنی
روغتیا داسلام په دین کې ځانګړی اهمیت اومنزلت لري چې له هره اړخه دې موضوع ته پوره پاملرنه شوې ده .لکه رسول الله( ص) چې فرمایي :
[غښتلی مسلمان دخداي په نزد غوره اومحبوب دي له کمزوري مسلمان څخه ،په دواړوکې خیر اوبرکت دي . په هغه چاروکې چې ستاسو پکې ګټه وي راغب اوحریص اوسی . له خدایه مرسته وغواړي اوعاجز مه کېښینی.] مسلم
دروغتیا دارزښت په اړه په یوه حدیث شریف کې راځي چې فرمایي :
[ له خداي څخه عفوه یا ښښنه ،عافیت اوروغتیا وغواړی له ایمان اویقین څخه پس تر روغتیا غوره شی چا ته نه دي ورکړل شوي ]. نسایي
همدارنګه په بل حدیث شریف کې راځي چې :[ بیشکه ستا درب په تاباندی حق دی اوستاد بدن په تاباندی حق دی .] بخاري
شراب چې یو له مخدره توکو څخه دي او دانسان بدن ته ډیر زیانونه لري اودحرمت په اړه یي له دې حدیث څخه یادونه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ابن عمر څخه روایت دي چې رسول الله (ص) وفرمایل :[هرنشه راوړونکی شی شراب اوهر نشه راوړونکی حرام دی ،چا چې په دنیا کې شراب وڅښل اومړ شو توبه یي ځینې ونه کړه ،دآخرت له شرابو ورته نه ورکول کیږي ] مسلم
همدارنګه په یو بل حدیث شریف کې راځي :
[ په شرابوکې هیڅ ډول شفا دهیڅ ډول ناروغۍ لپاره نشته بلکه هغه پخپله درد اوناروغي ده ]. مسلم
په یوبل حدیث شریف کې دروغتیا په اړه راځي چې :
رسول الله (ص) فرمایي :
[ دوه نعمته دي چې اکثره خلک په هغوکې غولیږي اوپه قدر یې نه پوهیږي چې یو روغتیا او بل فارغ وخت دي ] بخاري
ددې احادیثو څخه دښې روغتیا ګټې او دروغتیا ساتنې اهمیت داسلام په سپېڅلي دین کې ډیر روښانه معلومیږي اودمخدره توکو ضررونه او دهغه حرمت هم پکې څرګند دې نوټولومسلمانانو ته لازم دي چې په پورتنیو احادیثو پوره عمل وکړي.

**دمخدره توکو په اړه دځلورګونوفقهونظریې :**

دمخدره توکو داستعمال په اړه دځلورواړومذاهبو نظریات په لاندې ډول دي:

**لومړی:داحنافونظریه:**

شیخ شرنبلالي داحنافوله فقهاوو څخه دي چې دمخدره توکو حرمت یي تصریح کړی او دخپلې فتوی لنډیز یي په نظم اړولي چې استعمال ،پیرودنه ،اوخرڅلاو یي حرام اواستعمال یي دروژې با طلوونکی بللئ.
همدارنګه د شیخ مسیري چه داحنافو یو بل فقیه دی دهغه د نظر په هکله دهغه شاګرد شیخ اسماعیل نابلېسي وایي چې :
شیخ مسیري چې زمونږ دزمانې شیخ مشایخ دی دخانیاتو داستعمال په هکله یې دممنوعیت فتوی ورکړې ده.
شیخ عمادي ،مُحَمَّد علاوالدین حصکفي ،شیخ رجب احمد ، مُحَمَّد عبد العظیم مکي ،شیخ ابوالحسن مصري ،مُحَمَّد ابن صدیق زبیدي او ددې فقهې نور پیروان هم ورته نظر لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم: دمالکي فقهې نظریه :**
شیخ ابراهیم لقماني چې دمالکي فقهاوو څخه دي دمخدره توکو حرمت یې ثابت کړی او په دې اړه یې یوه لویه رساله لیکلې ده. همدارنګه شیخ سالم سنهوري یوبل مالکي فقیه دخانیات حرام بللي اودخپل عمر تر پایه په خپله خبرهولاړ وو او هېچا دهغه مخالفت ونکړ.
شیخ خالد سویدي ، شیخ مُحَمَّد ابن فتح الله ابن علي مغربي ،ابوغیث قشاش مغربي اونور دمالکي فقهې پیروان هم پدې آند دي .

**دریم :دشافعي فقهې نظریه :**
شیخ نجم الدین غزي چې دشافعي فقهې یو پیرو دي وایي:
په دخانیاتو نوي روږدي کسان وایي چې سړی نه بیهوشه کوي که چیرې داسې هم وي ،څرنګه چې دانسان دبدن غړي سستوي نوځکه حرام دي ځکه چې په دې اړه مُحَمَّد( ص ) فرمایلي دي :
[چې هرمست کوونکی اونشه راوړونکی شی حرام دي. ]
ددې موادو په استعمال مداومت کبیره ګناه ده لکه څرنګه چې په نوروصغیره ګناهونوکې هم دا عمهقاعده ده.

**څلورم :دحنبلي فقهې نظریه :**
ددې فقهې یو پیرو شیخ مصطفی رحیباني چې دنجد له سېمې څخه دي وایي چې :
دحنبلي فقهې ډېر پیروان دمخدره توکو کارونه ناروا ګڼي .
شیخ مُحَمَّد حنبلي ،شیخ منصور بهوتي او شیخ عبدالله ابن شیخ مُحَمَّد ابن عبدالوهاب دنوموړې نظریې سره هم نظره دي.

**دمخدره توکو په اړه داسلامي متأُخرینو علماوواوپوهانو نظریات:**
لکه څرنګه چې پورته ذکر شول چې دمخدره توکو کارونه په اسلام کې ناروا ګرځېدلې ده اوپدې اړه ګڼ آیتونه او احادیث هم بیان شول ددې تر څنګ اسلامي علما او پوهان هم په دې اړه چپ نه دي پاتې او دمخدره توکو په اړه یې خپلې سالمې اوګټورې نظریې په لاندې ډول بیا ن کړې دي:
الف :ډاکټر عبدالجلیل چلپي داسلامي تحقیقاتو دانجمن غړي خپل نظر داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته تردې چې ګڼ شمېر اوډول ډول طبي خپرونې مې ددخانياتو په اړه ولوستې او دهغه روغتيايي ، ټولنيزاواقتصادي زيانونه مې له نظره تېرکړل په صراحت سره وايم چې استعمال يې حرام قطعي دي اومعتادو کسانو ته لازمه ده چې هغه پرېږدي اونورکسان دې له هغه څخه ډډه وکړي .

ب :شيخ مُحَمَّد ابراهيم دسعودي عربستان پخواني لوی مفتي فتوی ورکړې چې :
ددخانياتو په خباثت ،بد بويي اوبيهوشولو کې شک اوشبهه نشته نو ځکه دصحيحو رواياتو ،سالم عقل او معتبرو طبيبانو دنظريو پر بنا هغه حرام دي .
ج:مصطفی مُحَمَّد حد يدي داسلامي تحقيقاتو دټولنې غړی وايي:
ددخانياتو استعمال په بشپړ ډول نفس ته مضر دی اوکوم شی چې نفس ته مضر وي دعقل او شريعت له مخې حرام دي .
د: شيخ ډاکټر ذکريا بری داسلامي بحثونو اوتحقيقاتو غړی وايي چې :
داوسني طب پر بنسټ چې کومې ليکنې ما په دې اړه لوستلې دي مخدره توکي دانسان دنفس ،عقل اومال دتلف کيدو سبب ګرځي په داسې حال کې چې خداي (ج )مونږ ته دهغه په خوندي ساتنه اونه تلف کولو امر کړی نوله دې څخه ددخانياتو حرمت په ټولو ډولونو او شکلونو ثابيتيږي ،حرمت يې قطعي اويقيني شميرل کيږي تر څو دوګړي اوټولنې روغتيا ،ژوند اومال خوند ي پاتې شي.
ه :ډاکټراحمد عمر هاشم دالازهر دپوهنتون داصول دين دپوهنځی دحديثو دڅانګې استاد اورييس وايي:
ما چې کوم احاديث او آيتونه ددخانياتو په اړه اورېدلي دي زما په اند ددې توکو په حرام والي کې هيڅ شک نشته او مطلق حرام دي ،نو موږ ي په خپله ليکنه کې ډيرآيتونه او احاديث راوړي دي چې دمخدره توکو حرمت په ډاګه کوي .
همدارنګه نوموړي په خپله ليکنه کې دWHO د۱۹۷۵ زېږديز کال وينا پدې ډول يادونه کوي :
دهغوکسانو شمير چې ددخانياتو داستعمال له وجې مري تر هغو چې د طاعون ،کولرا ،چيچک ،جذام اومحرقې له کبله مري زيات دي ،همدارنګه داسازمان تائيدوي چې ددخانياتو پرېښودل دروغتيا دښه والي اودعمر زياتوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لامل کيږي چې دنورو ټولو طبي وسيلو څخه داسې بريا ليتوب نه شي تر لاسه کيدای.

**دمخدره توکو په اړه داسلامي ټولنو نظريات:**

څرنګه چې مخدره توکي په اوسنی نړۍ کې يوه کړکېچنه موضوع ده او دډېرو ګڼو ستونزو دراټوکيدو لامل شوي دي نو ددې موضوع دحل او ددي کړکيچ دهواري په موخه اسلامي ټولنو خپل مسئوليت ادا کړی اوپه مختلفو غونډوکې يي دمخدره توکو پرضد څرګند پاڼې اعلام کړې دي چې مونږ يي يوازې د څو بيلګويادونه کوو:

دجامعه الازهر دفتواګانو ټولنې په يوه غونډه کې دمخدره توکو په اړه يوهفتوي صادره کړه چې په مجلة التصوف الاسلامي کې د ۱۹۸۴ زيږديزکال داکتوبر په مياشت کې په لاندې متن سره خپره شوه:

دعلماواوطبي متخصصينو يا ماهرينو په شهادت دمخدره توکو روغتيايي - ضررونه په يقيني اوقطعي ډول په اثبات رسېدلي ځکه چې هغه دسږو ،حنجرې ،ځيګر ،پانقراص اودبدن دنورو برخو د سرطانونو لامل کيږي همدارنګه دزړه او رګونودسيستم دناروغيو سبب کيږي .همدارنګه يې ضرر مال ته رسيږي ځکه چې دمعتاد کس دمال اوپيسو مصرف نه يوازې بې ګټې بلکې دهغه په تاوان دی.

اوحضرت مُحَمَّد( ص ) روغتيا اومال ته دضرررسولو څخه منع کړې او فرمايي: (لا ضَررولا ضِرار) .

[ لدې کبله مونږ دهغه په استعمال ،توليد ،واردولو ، صادرولو او سوداګرۍ يعنې پيرودنې اوپلورنې دحرمت فتو ی ورکوو ].

همدا رنګه اسلامي نړيوال کنفرانس چې په ۱۹۸۲ زيږديز کال د مارچ له۲۲- ۲۵ په مدينه منوره کې داير شوی وو دمسکراتو ،مخدراتو او تنباکو دکرنې اوسوداګرۍ دتحريم په اړوند فتوا ورکړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دمخدره توکو دحرمت اوکراهیت دلایل :**

١) مخدره توکي نه خواړه دي نه درمل نوځکه حرام دي.
٢) استعمال یي عبث اولهو لعب کار دي چې دا حرام دی .
٣) استعمال یي بدعت دي چې هر بدعت ګمراهي ده .
٤) هر هغه څه چې نشه راولي او مخدره وي دشرابو په ډله کې را ځي چې شراب حرام دي .
٥) مخدره توکي خبیث شی دي اوهر خبیث شی حرام دي .
٦) دفتنې او مصیبت سبب کیږي .
٧) دعقل او نفس فا سدوونکي دي او انسان له لمانځه اودخداي له ذکره باسي چې داکار دمعقول اومنقول دلیل پر بنا حرام دي .
٨) دخانیا ت دعذاب له وسیلو څخه دي چې خداي(ج) هغه دعذاب په وخت کې یاد کړي .
٩) دمخدره توکو په وسیله نوروته ضرر اوآزار رسیږي نوځکه حرام دي لکه چې الله ج فرمایي:
[څوک چې بې ګناه مسلمان آزاروي هغوي دبهتان او ګناه لامل ګرځي ].
همدارنګه حدیث شریف دي چې :
[هر آزاروونکی په دوزخ کې دي] .
١٠) څرنګه چې اصراف دي نو په شرعي نصوصو سره حرام دي .
١١) دمخدره توکو په استعمال سره دانسان بدن ته لوګی ننوزي او لوګی له اور څخه راپیدا کیږي او داور خوړل حرام دي .
حدیث شریف دي چې :
[خدا ي (ج )اور دخوړو په حیث مونږ ته نه دي پیداکړی] .
١٢) په هغه کې شیطان ته ورته والی دي ځکه چې استعمالوونکی یي اور په لاس کې اخلي .
١٣) حراموالی یي دفقیهو په اتفاق سره ثابت شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په مخدره توکو دروږدوکسانودرملنه داسلام له نظره :**

څرنګه چې زمونږ ټولنه الحمدلله يوه اسلامي ټولنه ده نودهر چا لپاره دا اړينه ده چې داسلام په اصولو او اسلامي ارزښتونو ځان خبر کړي اودهغې په رڼا کې خپل ژوند پر مخ بوزي .

دايوڅرګند حقيقت دي چې داسلام مبارک دين مسلمانان يو له بل سر ه مرستې اوخواخوږۍ ته هڅوي او په خپلو پيروانو غږکوي چې دبېوزله او اړو خلکو سره مرسته وکړي او لاس نيوی يې وکړي اوسمه لاروروښيي نو پر همدې بنسټ زه دلته داسلام له نظره دناروغانو په ځانګړي ډول دمعتادينو ددرملنې ارزښت په لنډه توګه څېړم.

لکه څرنګه چې دمخدره توکو پرضد مبارزه په دوو (٢) بنسټيزو طريقوولاړه ده : چې يوه وقايه يا مخنيوی او بله معالجه يا درملنه ده چې له وقايې څخه موخه داعتياد څخه ځان ساتنه اوددوام کولو ممانعت دي او له درملنې څخه موخه دمعتاد کس دژغورنې لپاره کوښښ اوهلې ځلې دي کوم چې دخطر په منګولو کې راګير وي.

دوقايې له لاروچارو څخه يوه هم ځان ساتنه او دمخدره توکو په استعمال نه اقدام کول دي ځکه دانسان نفس هغه تشويقوي چې دمخدره توکو خوند وڅکي او دهغه نتيجه وګوري چې همدايي دروږديتوب پيل او دبدمرغيو کندې ته ګوزارېدل وي چې بيا له هغه څخه خلاصون ستونزمن برېښي .

لکه په عربي ادبيا توکې راغلي چې :

دوه ډير هوښياراوځيرک ملګري وو يوه ملګري هغه بل ته وويل :

په مونږ دواړوکې کوم يو ډير هوښيار اوچالاک دي ؟

ملګري يې ځواب ورکړچې : زه ! ځکه چې که چېرې په کوم مصيبت اخته شوم پوهېږم چې څنګه ځان ترې وژغورم.

لمړني ملګري ورته وويل چې زه تر تا ډير ځيرک اوهوښيار يم ځکه چې کله زه په شر اومصيبت وپوهېږم پکې نه لويږم.

په رښتيا هم عاقل هغه څوک دی چې لومړی فکر وکړي بيا عمل وکړي ځکه چې که يو ځل څوک داعتياد کندې ته ورولوېدل نو بيا يې ژغورنه سخته او ډير کړاو ته ضرورت لري او ژغورنه يې ډيره يقيني هم نده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخدره توکو څخه دوقایې په اړوند په یو ه ټولنه کې امر بالمعروف اونهې عن المنکر ډېرزیا ت مرستندوی رول لوبوي .لکه چې الله پاک فرمایي :
[ والمؤمنون والمؤمنا ت بعضهم اولیا ء بعضٍ یا مرون بالمعروف وینهون عن المنکر ] التوبه ۷۱ ایت
ژباړه:مؤمن سړی اومؤمنې ښځې ځنې یي یو دبل دوستان دي چې حکم کوي دوي په نیکیو اومنع کوي له بدیو څخه .
څوک چې په مخدره توکو یو روږدی کس له مخدره توکو څخه وژغوري نودادخیر دلیل دي او هغه یي له شره خلاص کړي دي ،دااسلامي اخلاق دي چې حضرت محمّد( ص )مسلمانان دې ته هڅولي اوفرمایلي یي دي :
[څوک چې له یوه مسلمان څخه یوه ستونزه دفع کړي ،خدای( ج ) دهغه څخه دقیامت دورځې له ستونزو څخه یوه ستونزه دفع کوي او خدای( ج ) دبنده سره په مرسته کې دي ترهغوچې هغه دیوبل مسلمان ورور په مرسته کې وي ] مسلم
همدارنګه یو مسلمان ته په کار ده چې دنورو له ستونزو ځان خبر کړي او په چاروکې غفلت ونه کړي ځکه چې محمّد (ص) فرمایي:
[اونه دي بشپړ مسلمان له تاسو څخه هغه څوک چې څه شی ځان ته خوښوي نورو ته یي هم خوښ نه کړي ] مسلم اوبخاري
له پورتنیو څرګندونو څخه داعتیاد دوقایي ارزښت په ډاګه کیږي او دهغه دلا اغېزمنتوب لپاره اړینه ده ترڅوهغه څوک چې دوقایي لپاره منډې ترړې کوي باید په مخدره توکو روږدي نه وي او د معتادینو لپاره یوه ښه بیلګه وي.
همدارنګه دمعتادینو درملنه هم باید له پامه ونه غورځول شي اوپه دې ډګرکې هم باید ګړندي ګامونه واخلو ترڅویوه سالمه ټولنه رامنځ ته کړو او دبدمرغیو لړۍ ته دپاي ټکی کېږدو.
داسلام دین هرناروغ هڅوي چې خپل ځان معالجه کړي ،حدیث شریف دي چې :
[اې دخداي بندګانو خپل ناروغان تداوي کړي ځکه چې خداي (ج) دهرې ناروغۍ لپاره دوا پیدا کړې ] ترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه معتاد کس باید په ټولو ممکنه وسایلو سره تداوي شي ځکه دمعتاد درملنه خیر ،ترحم اوله بېوزلو سره مرسته ده چې په دې اړه ح مُحَمَّد( ص ) فرمایلي دی :

[دمسلمانانوصفت دهغو په ترحم اومهربانۍ یو پر بل باندې دی اولکه یوبدن داسې دي چې که یوغړی ناروغه شي ټول بدن ورسره په تکلیف او بې خوبه وي]. بخاري اومسلم

ددې څپرکي په لوستلو سره دې خدای ج وکړي چې هر مسلمان که په مخدره توکو روږدي وي له نوموړو موادو څخه لاس پر سر او یا هم بل هر با احسا سه او هېوادپال وګړی نورو ته دنصیحت او سمې لارې په ښوولو سره خپله ایماني وجیبه تر سره کړي اودخپل دین په ټولو اصولوپابند واوسي.

نوګرانوهېوادوالو ! راځی چې په یوه غړاوټینګ یووالي سره دمخدره توکو په وړاندې مبارزه وکړواوله دې مهلکې بلا څخه خپل ګران اوبېوزله هېوادوال وژغورو.

په ګران هېوادکې دیوې اسلامې ،قانونمندې ،روغې اوسالمې ټولنې په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم څپرکی


## دمخدره توکوصحي ضررونه

لکه څرنګه چي مخدره توکي اودهغه کارونه اوسمهال زمونږ په هیواد کي یوه لویه ستونزه او دعامي روغتیا په وړاندي یوه لویه ننګونه ده چي دنورو ګڼ شمیر اضرارورترڅنګ دانسان بدن ته ډیر مضر دي او دډول ډول ناروغیو اوروغتیایی ستونزو لامل کیږي.

همدارنګه زمونږ په هېواد کي له بده مرغه په مخدره توکو درودږدوکسانوشمېر ورځ تر بلي زیاتیږي چي دمخدره توکو سره دمبارزې دوزارت دویاند له وینا سره سم دمعتا دینوشمېرپه افغانستان کي اوسمهال یو میلیون ته رسیږي چي یوسل اوشل زره یي ښځینه دي چي لامل یي په هېواد کي اعتیاد ته مساعد شرایط اوله ګاونډیو هېوادونوڅخه دکډوالو بیا راستنېدنه.......... کېداي شي .

همدارنګه دمخدره توکوپراخه کرکیله دې توکو ته دآسانه لاس رسي او اعتیا د دلا خپرېدوېوبل غټ لامل دي.

SECURITY MAP AND OPIUM POPPY CULTIVATION IN AFGHANISTAN BY PROVINCE, 2007-2008




په دې انځور کي دمخدره توکو دکرکیلي سیمي په ګوته شوې دي.

په دې څپرکي کي به دمخدره توکو په صحي اضرارولنډ بحث ولرو ولي کوم مخدره توکي چي په افغانستان کي ډیر کاریږي غواړم چي په ځانګړي ډول دهغه په اړه زمونږ هیوادوال زیات پوهاوی ولري او له ضررونو څخه یې خبر شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تنباکو( Tobacco) :**
دایوشین رنګه بوټی دي چي ډیره پخوانۍ تاریخچه لري او له بده مرغه زمونږپه هیواد کې ډیراستعمالیږي البته دسګرټ ،چلم اونصواروپه بڼه چي دانسان روغتیا ته ډیر زیان رسوي



**سګرټ (Cigarettes) :**



دنړیوال روغتیایي سازمان (WHO)دتعریف له مخې دسګرټو دمعتاد لپاره دوه تعریفونه شوي دي :
لومړی : هغه کس چي دژوند تر دې شېبویي سل (١٠٠) سګرټ څکولي وي.
دوهم : هغه کس چي په یوه اونۍ کې شپږ (٦) سګرټ وڅکوي.




دسګرټو استعمال یوه لویه ستونزه ده چي زیاتره قربانیان یي دمخ پر وده هېوادونو وګړي تشکیلوي.
دWHO له څرګندونو سره سم په نړۍ کې په هرو ١٥ ثانیوکې یو کس دسګرټو په اثر دزړه دناروغیو ، دویني لوړفشاراودسږیودسرطانونو او اونورناروغیو له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي چي ددې له جملې څخه ٢/٣ دمخ پروده هیوادونو استوګن دي چي ډېری یي تنکي ځوانان او ځوانارۍ دي .
همدارنګه کارپوهان وړاندوینه کوي چي تر ٢٠٣٠ زیږدیزکال پورې کېداي شي دسګرېټو له کبله دمړینوکچه په کال کې لس میلیونو ته ورسیږي چي دابه ترټولو مهلکوناروغیو زیاته مړینه وي.
دWHO دوینا پراساس دزړه دناروغیو له کبله ٤٠ % اودټولو مړینو ١٢.٥% د سګرېټو له کبله رامنځ ته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دسګرېټواغېزې :**
سګرېټ چې دانسان روغتیا ته ډېرمضردي او دهغه په دود کې کاربن -
مونواکساید ،نیکوتین ، ارسنیک ، راډیواکټیو مواد او په زرهاوونور مضرهمواد
شتون لري .
څېړنوښودلې چې په سګرټ کې ۴۵۶۰ زهري مواد چې له دې ډلې څخه یې ۶۰
سرطان زیږوونکي دي شتون لري.همدارنګه د۱۹۷۷ زېږدیزکال دبریتانیې
دشاهي پوهنتون په یوه اعلامیه کې راغلي چې که چیرې په یوه سګرټ کې
موجود نېکوتین دورید له لارې یو روغ انسان ته زرق شي دهغه دوژلو لپاره
کافي دي.
دسګرت له دود سره داستنشاق شوو نیکوټینو له جملې څخه ۲۵٪ نیکوټین
دوینې دوران ته جذب کیږي اوپه ۱۵ ثانیو کې دانسان دماغ ته رسیږي چې په
دماغ کې دځینو کېمیاوي بدلونونو لامل کیږي همدارنګه هغه عصبي لارې چې
دمغز له قشرسره اړیکې لري فعالوي چې همدا یې داعتیادلامل کیږي
اودسګرټومعتاد ته وروسته تر دوو 2 ساعتونو:
په فکري تمرکز کې ستونزه ،خوبجن حالت ،خستګې او ناقراري پیداکیږي .
همدارنګه سګرټ دروغتیا یولړنورې ستونزې هم رامنځ ته کوي چې په لاندې
انځورکې یې لیدلای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




- دحنجرې سرطان
- دمرى سرطان
- دسږيوسرطان
- دبرانشونومزمن تسپوديا التهاب
- ايمفېزيما
- دزړه احتشا
- دمعدې ټپونه
- دګونوسختېدل
- دپانقراص سرطان
- دمثانې سرطان

←





دخولې سرطان چې دنصواروله کبله رامنځ ته کيږي چې په لومړيومرحلوکې ديوکوچنې ټپ په بڼه وي وروسته کيداې شي چې اندازه يې ديوه ګلپې دګل په برابر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( دخولې دسرطان لومړنۍ مرحله )

نیکوتین چې په سګرېټو(تنباکو)کې شتون لري اوبدی اړخیزې اغېزې ( Side effects) لري چې په لاندې ډول دي:




په عصبي سیستم یې اغېزې:

- سردردي
- دخوب خرابوالی
- وېروونکې خوبونه لیدل
- ژړېه قهرېدل
- ګنګسیت

په زړه یې اغېزې:

- دزړه دضربان زیاتوالی یا کموالی
- دويني دفشارلوړوالی
- لږه یا ډېره اریتیمیا (دزړه دحرکاتوګډوډېدل)

په هضمي سیستم یې اغېزې:

- زړه بدوالی
- دخولې وچوالی
- سؤهاضمه
- اسهالات
- دمعدې ستونزه
- دخوند داحساس کموالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورې اغېزې يې:

☜ په وينه کې دانسولين زياتوالی يا دهغه په وړاندي دمقاومت زياتوالی.

☜ دويني دپړن کېدوشونتيا زياتوي.

☜ دبرانشونودسپازم لامل کېږي.

☜ دعضلاتوددرد اولړزې سبب کيږي.

☜ اوهمدارنګه دمفاصلوددرد اودبوی دحس دکموالي لامل کېداي شي.

**ښځې اوسګرټ څکول:**

له بده مرغه سګرټ څکول په ښځوکې هم يوه دپام وړ ستونزه ده چې دهغوي په روغتيا ناوړه اغېزې لري ،همدارنګه دښځولپاره سګرټ پرېښودل دنارينه په پرتله ستونزمن دي .

په ښځو باندې دسګرېټو ناوړه اغېزې په لاندې ډول دي:

♠ په دوو وروستيولسيزوکې په سګرټو روږدوښځوکې دصدري سرطانونوګراف ډېرلوړشوی دي (۸۰% دسږيوسرطان).

♠ په سګرټڅاخته ښځوکې تنفسي ناروغۍ شپږ ځله اودزړه ناروغۍ دوه ځله ترنوروښځوډېرې دي.

♠ دجنين سقط

♠ عقامت يا شنډوالی



♠ دکم وزنه ماشوم زيږول

♠ دامېندوارۍ پرمهال په ګېډه کې دماشوم معلوليت چې دا ترنوروښځو درې ځله زيات ددې ستونزې سره مخ دي

♠ نېکوټين دجنين په عصبي سيستم منفي اغېزه کوي اوپه عصبي سيستم کې دنقص لامل کيږي.

♠ داستروژن دکمبود لامل کيږي

♠ جنسي ناتواني اودوختي زړښت سبب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دسګرېټ پرېښودلولارې چارې:**

دڅېړنوله مخې ۳۰%هغه کسان چې دسګرټوپه تاوان هم پوهېږي خوبيا هم دهغه له څکولو څخه لاس نه اخلي ،همدارنګه دسګرټ څکونکوله ډلې څخه ۷۵% يي په خپل ژوند کې دسګرټوپرېښودلو هڅه کوي چې له دې جملې څخه ۳۰% يي تر دوه ورځو پورې پرهيزکولاي شي او له ۵-۱۰ % پورې کسان په دايمي ډول تري خلاصيږي .

اوهغه کسان چې په تدريجي ډول سګرټ کموي دهغه په پرېښودلوزر نه بريالی کيږي مګر ۸۰% هغه کسان چې په ناڅاپي ډول سګرټ پرېږدي په خپل هدف بريالي کيږي.

ځيني خلک دسګرېټ پرېښودلو په خاطر نيکوټين لرونکې ژاولې استعمالوي چې دهغه نيکوټين دخولې له لارې جذبيږي اوکېداي شي چې دخولې دبد خوندۍ اودژامو ددرد لامل شي ،همدارنګه ځيني کسان بيا نيکوټين لرونکی چسپ دسهارله خوا په مټ باندې موښلوې چې دڅکول شوي دود په پرتله ۱/۲دنېکوټين غلظت په وينه کې توليدوي چې دادواړه طريقې کېداي شي يوڅه مرسته وکړي خوډېرې اغيزمنې نه دي.

دسګرټ پرېښودلو لپاره بايد نېټه وټاکل شي ،دسګرټ څکولو پرمهال لاس ته تغير ورکړي ، له سګرېټ څکونکوسره ناسته ولاړه ونه کړي ، دډاکټر سره مشوره وکړي ، سپورټ وکړي اودسګرېټ پرېښودلو په مثبت اړخونو فکر وکړي چې داکارکېداي شي دسګرټ څکوونکي سره دسګرټ په پرېښودلو کې مرسته وکړي.

**چرس (Marijuana, Cannabis) :**



دا مواد دبرسام راوړونکو په ډله کې دي چې دچرسو له شين نصواري رنګه بوټي څخه لاس ته راځي .

چرس يا حشيش chars or hashish دښځينه بوټي له پورتنۍ برخې څخه او Bhang يی چې د چرسوپه پرتله ضعيف تاثير لري دنبات له کښتنۍ برخې څخه ترلاسه کيږي.



دښځينه بوټي لويې څانګې اودنارينه بوټي ټولې برخې اغېزناکې نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرس په افغانستان اونړۍ کې ډیر کاریږي اومعمولا په دودي ډول استعمالیږي چې دچلم اویا هم په سګرټ کې اچول کیږي اوهمدارنګه یوډول ځانګړی پایپ هم لري چې دهغه داستعمال پرمهال دچرسوڅکوونکي ترې کاراخلي چې دانسان بدن ته ډیر زیان لري.



دچرسواغېزه له څکولو ۱۰-۲۰ دقیقې وروسته پیل کیږي او۲-۳ سا عته دوام کوي.


دچرسومؤثره ماده Tetrahydrocannabinol نومیږي چې په mg ۵۰۰بنه کیفیت لرونکوچرسوکې ددې موادو کچه۵-۱۵ملیګرامه ده چې ددې موادونیم ژوند په وینه کې ۷ ورځې دي.

چرس دانسان پربدن لنډمهاله اواوږدمهاله اغېزې لري چې په لنډ ډول ترې یادونه کوو.

**دانسان پربدن دچرسواغېزې:**

**۱- دچرسولنډمهاله اغېزې:**

چرس دانسان پربدن مختلفې ناوړه اغېزې لري چې نظر دڅکول شوو چرسو تراندازې پورې اړه لري.په منځنۍ کچه دچرسوڅکول دوه پړاوه رامنځ ته کوي :لومړی کاذبه -خوشحالي چې وریسې خوبجن حالت رامنځ ته کیږي همدارنګه دشخص په درک کې بدلون راځي او همدارنګه دسترګې دداخلي فشارټیټوالی ،دخولې وچوالی ، دیخنۍ یا ګرمۍ احساس ، دزړه دضربان زیاتېدنه ،دموازنې خرابوالی ، دخنداوخبروډیروالی ،داشتها زیاتوالی ،وېره اووهم او دمنضمې سوروالی هم رامنځ ته کوي .



Main short-term physical effects of cannabis.

که چېرې یو کس رواني ستونزې ولري دچرسو استعمال دهغه دتشدید لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي. همدارنګه دطب پوهان وايي چې که چېرې یوځوک په خپل ژوند کې یوځل هم چرس وځکوي اودژوند ترپایه کوم مهال نوموړي شخص ته لېونتوب (Psychosis) پیداشي علت یې کېدای شي هماغه یوځل دچرسواستعمال وي.

**۲- دچرسو اوږدمهاله اغېزې:**

کیداي شي دحنجرې دالتهاب ،دپزې دالتهاب ،ځنډن دبرانشونوالتهاب .ایمفېزیما ، دحافظې خرابوالی او کېدای شي دزړه دبرېښنایي انځوریا ECG دتغیراتوسبب شي ولې لا تر اوسه دنوموړوموادو داستعمال اودزړه دشدیدوناروغیوترمنځ تړاونه دي روښانه شوی.

همدارنګه چرس په مزمن ډول کارولوسره په سېروم کې دټسټسټرون سویه کموي اودسپرمونو دشمېر دکموالي لامل هم کیږي اوپه ښځوکې بیا دغیرنارمل میاشتني عادت اودتبیض دعدم کفایي سبب کېداي شي .

که چېرې چرس په ناڅاپي ډول پرېښودل شي دلاندي اعراضودرامنځ ته کېدوسبب کیږي :


بې خوبي ، زړه بدوالی ، دعضلاتودردونه او مخرشیت .

**تریاک اوهېروئین (Opium and Heroin) :**

تریاک دکوکنارودسپین رنګه شیرې څخه لاس ته راځي چې خپله توریا نصواري رنګ لري اوپه افغانستان کې په دودي اوفمي ډول کارېږي قوي ددرد ضد خاصیت لري او دفزیکي اورواني روږدیتوب لامل کیږي .

دنوموړې مخدرې مادې ناوړه اغېزې به دهېروئینو داغېزوسره یوځاي ذکرشي.


هېروئین هم یو له بنسټیزو نارکوټیکو له ډلې څخه دي چې له مورفین څخه مشتق شوی دي ددماغ دانحطاط لامل کیږي او له قوي روږدي کوونکو موادوڅخه شمېرل کیږي.



دهېروئینو استعمال له دودي او زرقي لارو تر سره کیږي ،چې دورید له لارې یې اغیزه ۷-۸ثانیې وروسته څرګندیږي اوپه دودي طریقه یې اغېزه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه زيات وخت نيسي چي دانسان پر بدن بيلا بېلې ناوړه اغېزې لري چې دااغېزې کېدای شي لنډمهاله اواوږد مهاله واوسي .




دهېروئينوله استعمال وروسته دوه حالته رامنځ ته کيږي :
لومړی کاذبه خوشحالي منځ ته راوړي چي ۵-۸ دقيقې دوام کوي همدارنګه په مزاج کې بدلون رامينځ ته کوي اودګنګس کېدوسبب کيږي په پوستکي کی ګرموالی ، سوروالی ،دخولې-وچوالی ،دتنفس دشمېر کمېدل ،داطرافو دروندوالی اود حدقې د تنګوالی (Meiosis) لامل کیږی.البته دااغېزې په لنډمهال کې په هغه صورت کې رامنځ ته کيږي چي په منځنی کچه هېروئين استعمال شوي وي اوکه چېرې په لوړه کچه نوموړي مواد استعمال شي دتسمم لامل کيږي چي لاندې حالات رامنځ ته کيږي :


(c) ketabton.com: The Digital Library

دهېروئينو لنډ مهاله اغېزې

- دتنفس شمېره ډېره کمېږي (Respiratory Depression)
- محيطي رګونه پراخيږي
- دسترګوحدقه دسنجاق دسر په اندازه کوچنۍ کيږي
- چاړان يا اختلاجات
- دفشاراودزړه دضربان کموالی
- زړه بدوالی اوکانګې
- دسږيوپړسوب( Pulmonary edema )
- کوما
- مرګ

دترياکواوهېرويينو اوږد مهاله اغېزې هغه وخت رامنځ ته کيږي چې يومعتاد کس داوږده مهال لپاره داتوکي وکاروي.

په ښځواونارينه ووکې دجنسي قوت کمزوري چې کېداي شي دشنډوالي لامل هم شي .همدارنګه دنومورړوتوکو استعمال دوريد له لارې داېډز او زېړي ( HIV and Hepatitis B and C)، دوريدونو دکولپس اودزړه دانتاناتوسبب شي اولکه خرنګه چې نوموړي مواد د بدن مقاومت کموي نو روږدی کس کېدای شي چې دتنفسي سيستم او نوروسيستمونوپه انتاناتواخته شي اوپه عصبي سيستم له اغېزوڅخه يي



(c) ketabton.com: The Digital Library

روږديتوب ،تحمل اوددې توکوسره تړاودي.
ددې موادودپرېښودلواعراض
يا(Withdrawal syndrome)
۸-۱۲ ساعته وروسته شروع کيږي اوتر ۷۲ ساعتونواوج ته رسيږي البته
دترياکوپه معتادينوکې دااعراض تر ډېره دوام کوي چې بيا په تدريجي ډول
دااعراض کميږي .
پورتني اعراض په ۵ درجوچې له (۰-۴)پورې په ترتيب سره
په لاندې ډول درجه بندي شوي
دي:


**دهېروئينو اوږدمهاله اغېزې**

صفر درجه ( Grade 0): دمخدره توکودغوښتنې علاقه اووېره يا Anxiety
لومړۍ درجه(Grade 1):دارګمي ايستل يا Yawning ،داوښکوبهېدل ،دپزې
بهېدل اودبدن خولې کېدل.
دوهمه درجه(Grade 2):دلومړۍ درجې اعراضو سره بې اشتهايي ،لړزه ،دبدن
دوېښتانونېغ درېدل ،په بدن کې ګرمۍ اوکله هم ديخنۍ احساس اودځان درد.
دريمه اوڅلورمه درجه (Grade 3 and 4): دمخکېنيو اعراضو شدت زياتيږي
اوورسره دبدن دتودوخې درجه ،دوينې فشار ،دزړه ضربان اودتنفس شمېره زيا
تيږي.
په شديد اعتياد کې ددې اعراضو تر څنګ کېدای شي کانګې ،اسهالات ،دوزن
بايلل
،جنسي ستونزې لکه Spontaneous ejaculation شتون ولري.

**دهېروئينوداستعمال اختلاطات:**

سينه بغل يا نمونيا ، ,Septic emboli دځيګرتسپود ياHepatitis اودوريد له
لارې اخستونکې يې دنوموړو اختلاطاتوترڅنګ داېدز ، دشريانونو دسپازم
،ګانګرين يا دبدن ديوې برخې دنسجونودمړينې اودسږيو دپړسوب له
خطرونوسره مخ دي.
هېروئين په مختلفو شکلونوپيداکيږي چې په افغانستان کې يې زياتره پوډري
بڼه ډير استعمال لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Black tar


## الکول یا ایتانول (Alcoholism):




الکول چې زمونږ په هیواد کې دشرابوپه نامه په عامو وګړوکې شهرت لري اوله بده مرغه ددې موادو داستعمالونکوشمېره تر پخوا زیاته شوې ده چې نوموړي مواد دنورو رواني ستونزوترڅنګ دژورخفګان یا Depression یولامل شمیرل کیږي اوداوګړي زیاتره دځان وژني هڅه کوي چې په غربي نړۍ کې ځان وژني یې ښه بېلګه کېداي شي.همدارنګه قتلونه ،جنسي ناوړه کاروني اونورجرمونه دالکولو دڅښلو له کبله په ټولنه کې رامنځ ته کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکول دپورتنيو ستونزوتر ځنګ ديولړ زياتو روغتيايي ستونزو لامل هم کيږي او دالکولو دڅښلو له کبله ټولې هغه ستونزې چې ددماغ دانحطاط کوونکو موادو




ځخه رامنځ ته کيږي ليدل کيږي اودپرونوروستونزولامل کېداى شي.

پربدن باندې دالکولوممکنه اوږدمهاله اغېزې

لکه :

ګنګسيت ،دسترګوغيرنارمل خوځښتونه ،درواني اوحرکي دندوخرابوالى ،دموازنې له لاسه ورکول ،زړه بدوالى او کانګې.

دالکولو په شديد Intoxication يا نشه کې دتنفس انحطاط ،بې حالي ،چاړان يا اختلاج ،شاک ،کوما اومرګ رامنځ ته کېداي شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

په دماغ باندې دناوړه اغېزې له کبله دعصبي اورواني ناروغيو لکه:
ژورخفګان ،وېره ،دخوب خرابوالی ،لېونتوب ،ژرپه قهرېدل ،هزيانات اوبرسامات ،
دليدوخرابوالی ،دحافظې کمزوري او دموازنې له لاسه ورکولو لامل کيږي.
**په نوروسيستمونوهم ناوړه اغېزې لري لکه:**
دځيګر التهاب اوسېروز ، دويني دېږ کېدو ستونزه ، کمخوني ،
دهورمونودکچې ګډوډي ،دمعدې مزمن التهاب ،داوم(7 ) قحفی عصب دفلج په پايله کې دسترګوفلج ،دشکرې دناروغۍ درامنځ ته کېدو خطر ،دپانقراص التهاب ،سرطانونه اود زړه ناروغۍ .
**په ښځوباندې دالکولواغېزې :**
دپورتنيو ستونزو تر څنګ په ښځوکې دکم وزنه ماشوم دزيږولو ، دذهني وروسته پاتې ماشوم دزيږولواو ددې ښځونوزوکړې کېداي شي دزړه ولادي ابنارملتې ولري اوذکاوت يې کمزوری اوښه وده نه کوي .
ديادولو وړ ده چې دااغېزې په ښځوکې دسګرټ ،چرس اوکوکائين داستعمال له کبله هم رامنځ ته کېداي شي.
**دالکولو دپرېښودلوله کبله لاندې اعراض رامنځ ته کيږي :**
لړزه ،وېره ،دزړه دضربان ، تنفس اودويني دفشار جګوالی ..............
پورتني اعراض له اخرني استعمال څخه 8 ساعته وروسته شروع کيږي او72 ساعته دوام کوي چې امکان لري په لومړنيو 24 ساعتونوکې دعمومي چاړان يا اختلاج حمله پرې راشي .
همدارنګه په بدن کې دالکترولايتونو سويه بدلون مومي پوتاشيم اومګنېزيم کمېږي اوورسره دخوب خرابوالی ،ژور خفګان اوسرګرځېدنه کېداي شي تر 3-12 مياشتو پورې دوام وکړي.
**کافين Caffeine :**
دنېکوټين اوالکولوترڅنګ کافين هم په نړۍ کې په پراخه پيمانه استعماليږي چې په منځنۍ کچه په کال کې لس( 10 ) بېليونه پونډه کافين مصرفيږي .
کافين په چای ،قهوه اودکوکا اوکولاپه مشروباتوکې شتون لري اوکله چې يوکس په ورځ کې تر250 ملي ګرامه ډېر کافين واخلي دوېري Anxiety ، ناآرامۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

،دخوب کولو ستونزه اودزړه اوهضمي سیستم دجسمي اعراضو درامنځ ته کېدو لامل کیږي .

دکافین اندازه په مختلفو مشروباتوکې سره فرق لري اوددې موادوپه لوړه کچه استعمال یا Overdose لاندې اعراض رامنځ ته کوي:




- ♦ مخرشیت
- ♦ ویره یا Anxiety
- ♦ ناآرامي
- ♦ سردردي
- ♦ بېخوبي
- ♦ دغوږونوبرنګس
- ♦ ددرداوتماس په وړاندې دحساسیت زیاتوالی
- ♦ دزړه دریتم بې نظمي
- ♦ دګېډې درد
- ♦ زړه بدوالی اوکانګې
- ♦ تبه
- ♦ ډیهایډریشن
- ♦ چاړان یا Seizures
- ♦ دتنفس زیاتوالی اوداسې نور

دکفین دزیات خښلویا Caffeinism حالت کېدا ی شي دوېرې یا Anxiety سره غلط شي . همدارنګه هغه کسان چې په ژورخفګان یا Depression باندې اخته وي دخپل سرې درملنې په بنه دکافین لرونکومشروباتو څخه ډېره استفاده کوي چې په پایله کې دپورتنیو اعراضوڅخه سرټکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بنزوډیازیپین Benzodiazepine :**

دادرمل دخوب اوanxietyلپاره استعمالیږي اوکه چېرې پرته دډاکټر له مشورې په لوړدوز اوداوږده مهال لپاره استعمال شي داعتیادلامل کیږي .




**لنډمهاله اغېزې :**

خوبجن حالت ، ګنګسیت ، دآرامۍ احساس

**اوږدمهاله اغېزې:**

جنسي ستونزې ، داشتها زیاتوالی ،دوزن زیاتوالی.....

کله چې یوشخص دادرمل داوږدهٔ وخت لپاره استعمال کړي اوناڅاپه یې ودروي لاندې اعراض رامنځ ته کیږي :

وېره ،عصباني کېدل ،دخوب ستونزې ،خفګان

ددې درملوڅخه باید په پلان شوې توګه ددې درمل معتادخلاص کړواودوز یې په تدریجي ډول د4-6 اونیو په درشل کې راکم کړو.



ددې ګروپ درملوبېلګې دادي :

ډیازیپم ،الپرازولم ،برومازیپم ،کلورازیپاټ ،تیمازیپم........

**دمخدره توکودپرېښودلوګټې:**

1) دګوتواوغاښونوتوروالی اوداغونه به مو نه وي.
2) دخولې بدبویي به نه لری.
3) آرامه ساکښنه به ولری .
4) دمخدره توکوبدبویي به مو له کالیو ،وېښتانواوبدن څخه لیرې شي.
5) دمخ په پوستکي به موژرګونځې نه راپیداکیږي .
6) تنفسي ناروغۍ اودسږوله سرطان څخه به ترډیره حده بچ وی.
7) دبوی اومزې حس به موپیاوړی وي.
8) آرام اوراحت خوب به ولری.
9) دزړه اورګونودناروغیوخطر کمیږي.
10) په ښځوکې دامېندوارۍ پرمهال یادې شوې ستونزې به نه پیښیږي.
11) یوښه ژوند اوچاپېریال به مو نورووګړوته برابر کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

12) دخپلواولادونولپاره به یوه ښه نمونه وی.
13) اقتصادبه موښه وي .
14) په مسافرت کې به ستونزې نه لرى.
15) داعتیادله زندان څخه به خلاص وى اوآزاد ژوند به ولرى.

**داعتیادپه کنده کې لوېدل له پېښمانۍ پرته بله پایله نلري**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلورم څپرکی

## دمخدره توکوټولنیز اواقتصادي ضررونه

۱- دمخدره توکوټولنیزضررونه:

مخدره توکي اوپه هغه روږديتوب دګڼ شمېر ټولنیزوناخوالوسبب کېږي اوپه ټولنه کې بې ثباتي اوفساد رامنځ ته کوي ځکه چې په دې موادوروږد ي کسان دنوموړوموادو دترلاسه کولولپاره هرډول جرمونه اوغیرقانوني کړنې ترسره کوي لکه وژنې ، غلا ،سړي تښتونه ،دروغ ویل ..........چې له دې بدواغېزو اوناخوالوڅخه دټولنې ځوان قشر ډیر اغېزمن کیږي اوهغوي لدې کارڅخه منفي انګېزه اخلي اوکه پدې اړه جدي پاملرنه ونه شي نوهغوي به هم دخپلومعتادومشرانوپه پله پل کیږدي اویوټولنیز کړکېچ به رامنځ ته شي.

له بلې خوامعتادکسان په ټولنه کې ویسا (باور)له لاسه ورکوي حتی ډېرنږدې خپلوان اودکورنۍ غړي ورباندې باورنه کوي په محفلونو ،غونډواونوروټولنوکې دوي ته په ښه نظر نه کتل کیږي اووددې ترڅنګ معتادین دیني اومذهبي اصولوته هم داعتیاداونشې په وجه چندان ژمن نه وي چې دا یي په ټولنه کې دلا حقارت لامل کیږي اوپه دې سره معتاد داعتیادداسې زندان ته ورلویږي چې په هرلحاظ له نوروخلکوڅخه جلاوي چې داکاردمعتادپه روح اوروان ډېره ناوړه اغېزه کوي چې په تېرڅپرکي کې ورته اشاره شوې ده.

ددې لپاره چې یوپلاریا یوبل مشر دخپلواولادونواوکشرانولپاره یوه ښه اوویاړلې بېلګه واوسي بالعکس معتادکس دخپل راتلونکي نسل لپاره ددخجالت اوخفګان لامل کیږي چې په دې سره په یوه ټولنه کې دمعتادکس اولادونه په ذهني اوروحي لحاظ سخت زیانمن کیږي ځکه دوی ته دنوروماشومانوله خوا دمعتاددزامنوپه نامه خطاب کیږي .



همدارنګه کیداي شي چې ځینې ماشومان له خپلومعتادومشرانودنشې ناوړه تقلید وکړي اوهغوي هم په نشواخته شي چې دا به په لوي لاس دخپلوماشومانودبربادۍ پیلامه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په اسلامي اوپښتني ټولنه کې اعتیاد ته دیوه ډیر ناوړه عمل په توګه کتل کیږي حتی خپله معتاددهغه په نامه شرمیږي اوکه یوڅوک ورته معتاد ووایي سره له دې چې معتادبه هم وي خودي دمخاطب سر ه شخړه کوي.
معتادکس په کورني تاوتریخوالي او شخړوکې هم کلیدي رول لري ځکه چې مخدره توکي په دما غ ناوړه اغېزه کوي اومعتادکس ډیرژر اوپه وړه خبره په قهرکیږي چې بیا دکورنۍ له غړواونوروکسانوسره ډیره بده رویه کوي .
چې دادده اونوروهمکارانوترمنځ یې د نارضایتۍ اوخواشینۍ فضا رامنځ ته کوي اونوموړی کس که دنده ولري له لاسه یې ورکوي اودزیاتواقتصادي ستونزو سره لاس اوګرېوان کیږي .

## ۲- دمخدره توکواقتصادي ستونزې:

دشمېرنوله مخې په افغانستان کې تقریباً 1.5 میلیونه وګړي په مخدره توکوروږدي دي چې که چېرې هر معتادپه ورځ کې 100 افغانۍ په مخدره توکومصرف کړي نوددوي ورځنی مصرف به 150 میلیونه افغانیوته ورسیږي چې دازمونږ په بېوزله اووروسته پاتې هېوادباندی یولوی بوج دي.
همدارنګه معتادکس خپله دنده له لاسه ورکوي چې په نتیجه کې نوموړی دې ته مجبوریږي چې خپله ټوله شتمني په مخدره موادوصرف کړي اودی سوال کولواوګدایي ته اړکیږي .
معتادکس دوخت په تیرېدوسره خپله کاري وړتیا اوځواک له لاسه ورکوي اودخپلواولادونواوځان دنفقې دلاسته راوړلولپاره په هرډول جرایمو لاس پورې کوې چې که چېرې د مخدره توکوله استعمال څخه ډډه ونه کړي نوپایله به یې یا زندان اویا هم مرګ وي .
دمخدره توکو اوپه هغه باندې دروږدیتوب له کبله د راولاړوشوواقتصادي ستونزوسره ډیری روږدي کسان مخ شوي دي اوپه دې اړه دمعتادینو ډیرې دردونکې کیسې شتون لري.

ربنا لا توأ خذنا أن نسينا أوأخطانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

ددخانیاتوپه استعمال کې دشریعت حکم دپوهاندنعمت الله شهراني ژباره
Psychiatric Disorders Current 2008
بېلا بېلې وېب پاڼې لکه:
Commons.wikimedia.org /Wikipedia the free encyclopedia
www.drugrehab.co.uk
www.niksalehi.com
www.iranhall.com روزنامهٔ شرق سال 1385 چهارشنبه 24 ابان
Nawaaye-Afghanistan.net
www.drugrehab.co.uk
www.summerhousedetoxcenter.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Afghanistan Center for Training and Development (ACTD)
Urozgan Provincial Office
Drug Addicts Treatment and Rehabilitation Center

# DRUGS





Author: Dr.M.sadeq Reshtin

Year: 2010

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**